مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور صلاح الدین سعیدی ۲۰۲/۱۱/۳۰

# په تاجکستان کې د سولې خبرا؟!

تاجکستان او هر ځای کې افغانان حق لري سولې او خبر ته کار وکړي!
هر څوک حق لري سولې او خبر ته د خدمت لپاره په هرځای کې کار وکړي.
ظالم او مظلوم د خبر او خدمت حق لري!
ظالم او خاین که نه محاکمه کیږي او توبه باسي او د خپلو گناهونو د ترمیم لپاره لکه یو سرباز کار کوي، مشکل نه لري او نه شته او د سرباز په توگه یې د خپلو د گناهونو د عفوې د هڅو استقبال کوو!
اما د جمهوریت شل کلن خاین او قاتل، جانی او رشوت خور، د قوم او ژبې تاجر، د پردو او په سر کې د پاکستان او ایران جاسوس که د هرات او یا لغمان د سولې د کنفرانس تر نامه لاندې د خپل بیا زعامت او بیا سیاسي قدرت ته د رسېدو لپاره نرۍ غولول غواړي، د منلو نه دي!
دوی چې په قدرت او حکومت کې وو او د نړۍ د مرستو ملیاردونه ډالر یې لرل، څه وکړل چې اوس به یې وکړي؟
او د جنگ او جگړې لار د حل لار نه ده! خو د جنگ او جگړې نه توان په دوی کې شته او نه د اول انتخاب په توگه جنگ او جگړه دحل لار ده! اما طالب حاکمیت په تېرو څه د پاسه دوه کلو کې بواځې د جنگ او تسلیمي لار غوره کړې. جنگ او تسلیمی دواړه خطاء دي! خو که د طالب حاکمیت خپل اجاجت او سرتمبه گی ته دوام ورکړي، بله لار نه شته بې له جنگ! مونږ د افغانانو د حاکمیت سره دومره مشکل نه لرو! مو د پنجاب د دیفکتو د حاکمیت په کلکه غندنه کوو! دغه برخه کر د جنرال مبین د سر ټکوونو ویدیوگانې واورئ!
د حل لار:
د حاکمیت متداول مشروعیت ته لېوالتیا ، تعهد او د اجراء لپاره کار کول.
د مشروع ، اسلامي، متداول او مشروع حاکمیت، مشروع قوانینو انفاذ او انفاذ ته تعهد او کار!
مشروع متداول متمدني ټولنې ته د اسلام د ارزښونو سره سم اعتراف او له تیراني او خود کامگۍ لاس اخیستل!
دا وطن بواځې د طالب نه دی او د دې وطن په سرنوشت دغه ملت، یو وگړی، بوه رأیه د اسلام د اصولو او ارزښتونو په چوکاټ کې معقول او ممکنه ده! د طالب موحوده، دیفکتو حاکمیت دغه برخه کې پاتې راغلای او نه ورته تعهد لري!
د ټوپک او ډنډه مارۍ حاکمیت، د ملا شاهی حاکمیت د منلو نه دی!
طالب د مدرني دولتدارۍ له اصولو خبر نه دی او په لسهاو نیگړتیاوې لري او حاکمیت یې مشروع حاکمیت نه دی!
خو دا ددې مانا نه لري چې تېر خاینان او د خاینان دې ددې حق ولري چې بیا د کنفرانسو او نړۍ سره د پټو او خاینانه معاملو پر اساس پر ملت و تپل شي!
دا اوس نه شي کېدای او د روسانو، چینایانو، امریکایانو او د نړۍ د نوي قطبونو له سره قوت، داسې بیا تحمیل او د بن د کنفرانس امکانات محدودوي او عملاً ردوي!
دحل لار په نظام او ساختار توافق دی چې هلته اصلي تصمیم نیونکی، افغان ملت او په دوامداره توگه افغان ملت او د مدرني دولندارۍ د قانون حاکمیت د اسلام د ارزښونو سره سم، د افغان ملت د انتخاب فرصت وي او شي!
ومن الله التوفیق

دوکتور صلاح الدین سعیدی
۲۰۲۴/۱۱/۲۸
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ